# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**13سرطان_سال 1403**

خبرنامه





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


معین مسلکی وکفیل وزارت امور مهاجرین از شهرک مهاجرین قلعه وزیر ولایت لوگر دیدن نمود -----------1

د مهاجرینو چارو مسلکي مرستیال او کفیل د لوګر والي سره ولیدل ---------------------------------------1

کفیل وزارت امور مهاجرین از آمریت امور مهاجرین ولایت لوگردیدن نمود----------------------------------2

لوګر: محمد آغې ولسوالی کې د یوه NCHC روغتیایي کلینیک ډېره کېښودل شوه-------------------------2

برنامه آگاهی دهی یکروزه ترتیب، توحید وفارمت گزارش دهی در وزارت امور مهاجرین برگزارشد----------3

د مهاجرینو چارو وزارت د تحقیق او معلوماتو نوی رییس معرفي شو--------------------------------------4

در ماه که گذشت بیش از ۱۶ هزار خانواده، در شماری از ولایات کشور کمک شد--------------------------5

تر دوو زرو زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان او ایران څخه راستانه شول -------------------------6

کم سنه کډوال: یو ښوونکی د ښې اړخي ګوند د بریا په صورت کې د احتمالي بدلون په اړه اندېښنه څرګندوي 6

ایټالیا: لمپدوسا ټاپو ته څېرمه د لسو کډوالو د مړیني په تړاو دوه کسان نیول شوي ------------------------9

وزیر امور کار آلمان: روند به رسمیت شناختن حرفه سرعت ادغام شغلی را برای پناهجویان کند می کند ---10

خشونت در سودان: هزاران نفر هر روز کشور را ترک می کنند ----------------------------------------11

# متن کامل اخبار

## معین مسلکی وکفیل وزارت امور مهاجرین از شهرک مهاجرین قلعه وزیر ولایت لوگر دیدن نمود

ویب سایت وزارت

**الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وکفیل وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با هیأت همراهش از شهرک مهاجرین قلعه وزیر ولایت لوگر دیدن نمودند.**
**آقای راشد در این بازدید ضروریات شهرک یاد شده را ارزیابی و در جهت تصفیه آن به مسوولین مربوط هدایات لازم را بیان داشت.**
**وی مشکلات باشندگان آن شهرک را نیز استماع نموده ودر جهت حل آن اطمینان داد.**

## د مهاجرینو چارو مسلکي مرستیال او کفیل د لوګر والي سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال او کفیل مولوي عبدالرحمان راشد او ورسره مل پلاوي لوګر ولایت ته د سفر پرمهال ددغه ولایت له والي مولوي ضیاء الرحمن مدني سره د ولایت مقام کې ولیدل**

په دغه ناسته کې لوګر ولایت ته د راستنو شویو مهاجرینو، داخلي بېځایه شوو او د مهاجرینو د ښارګوټو په ستونزو او ورته په اسانتیاو رامنځته کولو خبرې وشوې

د لوګر والي ډاډ څرګند کړ، چې په دغه ولایت کې تردېره د مهاجرینو ستونزو ته رسېدنه شوې او په دې برخه کې به خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي

## کفیل وزارت امور مهاجرین از آمریت امور مهاجرین ولایت لوگردیدن نمود

ویب سایت وزارت



الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی و کفیل وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با همراهی شماری از روسای مرکزی در سفرش به ولایت لوگر از آمریت امور مهاجرین آن ولایت دیدن نموده مشکلات و پیشنهادات آنان را استماع نمود.

محترم راشد در دیدار با کارمندان آن آمریت بر اخلاص، اطاعت، هماهنگی، شفافیت، سرعت در روند کار، اجرای احکام شرعی و سایر اصلاحات لازم تاکید کرد.

کارمندان آمریت امور مهاجرین لوگر به آقای راشد در مورد فعالیت های خود توضیحات ارایه نموده و آنها از شفافیت در کار شان اطمینان دادند.

## لوګر: محمد آغې ولسوالۍ کې د یوه NCHC روغتیایي کلینیک ډېره کېښودل شوه

د وزارت ویب سایت



**د لوګر ولایت، محمد آغې ولسوالۍ زرغون ښار سیمه کې د یوه NCHC روغتیایي کلینیک د بنسټ ډبره نن د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال او کفیل مولوي عبدالرحمان راشد د لوګر ولایت مرستیال مولوي محمد انور او یو شمېر نورو مسوولینو له لورې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه**

**د یادو مراسمو پرمهال د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال وویل: د افغانانو د جهاد او قربانیو په پایله کې اشغال مات، اسلامي او خپلواک نظام رامنځته، سرتاسري امنیت ټینګ او د بیا رغونې کارونه په چټکۍ سره روان دي او په کانالونو، بندونو، مکتبونو او کلینیکونو په یو وخت کارونه جریان لري**

**ښاغلي راشد د یونیسار او اکرو موسساتو مننه وکړه، چې د یاد کلینیک مالي لګښت یې په غاړه اخستی او د پروژې انجنیرانو ته یې د کارونو د چټکتیا تر څنګ د کاري کیفیت په اړه سپارښتنه وکړه**

**نوموړي له ولسونو وغوښتل، چې د عام المنفعه پروژو ملاتړ او ساتنه وکړي**

**د سیمې خلکو د اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د مهاجرینو چارو وزارت د هڅو ستاینه وکړه او ویې ویل د کلنیک د نشتون له امله دوی له ډېرو ستونزو سره مخ و، چې اوس به یې دغه ستونزې پای ومومي.**

## برنامه آگاهی دهی یکروزه ترتیب، توحید وفارمت گزارش دهی در وزارت امور مهاجرین برگزارشد

ویب سایت وزارت



برنامه آگاهی دهی فارمت پلان، گزارش دهی، تعقیب پلان های مطروحه شده و دست آورد های وزارت امور مهاجرین برای روسای مرکزی، آمرین و مدیران اجرایه در تالار کنفرانس های وزارت برگزارشد.

الحاج محمد ارسلاح خروتی معین مالی واداری وزارت در این برنامه سخنرانی نموده گفت: از برگزاری چنین برنامه استفاده اعظمی صورت گیرد هر ریاست مکلف است تا اهداف را مطابق به پلان به پیش برده وعملی نماید.

محترم خروتی افزود: اهداف اساسی بخاطر اصلاحات و اصل مقصد باشد تا در اداره تغیرات مثبت ایجاد گردد.

وی بر هماهنگی بیشتر و روابط خوب تاکید نموده و گفت: کوشش ما و شما خدمت به مردم، تغیرات و تحول مثبت و رضایت مردم باشد تا اصلاحات بینادی در اداره بوجود آید.

مولوی محمود الحق احدی رییس پالیسی و پلان وزارت در مورد مسوولیت ها و کارشیوه ریاست پلان به سخن پرداخته افزود: وظیفه ریاست پلان تحلیل و تعقیب پلان ها مطابق به اهداف استراتیژیک وزارت با نتیجه مثبت بوده و نتایج و شاخص های فعالیت را مورد بررسی قرار میدهد.

وی خواهان همکاری بهتر در طرح و تطبیق پلان ها از شاملین برنامه متذکره شد.

برنامه با ارایه پرزنتیشن در بخش پلان و گزارش دهی و شریک سازی دست آورد ها سال گذتشه برای اشتراک کننده گان پایان یافت.

## د مهاجرينو چارو وزارت د تحقيق او معلوماتو نوی رييس معرفي شو

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په وراندیز او د ریاست الوزراء په حکم قاري احمدالله هاشمي د مهاجرینو چارو وزارت د تحقیق او او معلوماتو د ریاست نوي رییس په توګه د وزارت د دفتر ریاست رییس مولوي محمد جان خدرخېل له لوري د وزارت د ځینو مرکزي رییسانو په شتون کې د دغه ریاست کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.**

**په دې مراسمو کې د وزارت د دفتر رییس محمد جان خدرخېل د ښاغلي هاشمي د معرفي کولو په مراسمو کې خبرې وکړې او په اداره کې ادلون بدلون یې یو اصل وباله.**

**نوموړي د دې ادارې د پخواني رییس قاري صابر ګل مصلح د کارونو ستاینه وکړه او نوي رییس ته یې د لا بریاوو او خدمتونو هیله څرګنده کړه.**

**قاري صابرګل مصلح هم خبرې وکړې او نوي رییس ته یې د خدمتونو په برخه کې د لا بریالیتوب هیله ښکاره کړه.**

**د اطلاعاتو او څېړنو نوي رییس ښاغلي هاشمي د وزارت د رهبرئ د باور ستاینه وکړه او ډاډ یې څرګند کړ، چې تجربو ته په پام به خدمتونه او هلې ځلې کوي.**

## در ماه که گذشت بیش از ۱۶ هزار خانواده، در شماری از ولایات کشور کمک شد

ویب سایت وزارت

**براساس گزارش های واصله از ریاست های امور مهاجرین ولایات کشور در ماه گذشته (جوزا) ۱۶ هزار و ۵۶۲ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، متضرر ناشی از حوادث طبیعی و نیازمند در ولایات کابل، پروان، کاپیسا، لوگر میدان وردک، بامیان، غزنی، بغلان،**

**کندز، تخار، سرپل، سمنگان، جوزجان، بدخشان، فاریاب، کندهار، هلمند، زابل ارزگان، دایکندی، ننگرهار، لغمان، نورستان، کنر، هرات، فراه، بادغیس، نیمروز، غور، خوست، پکتیا و پکتیکا مساعدت شدند.**

**منابع افزودند که این کمک ها شامل پول نقد، بسته های پوشاک، مواد خوراکی، وسایل کاری و خیمه بوده که خانواده های یاد شده آن را از جانب شماری از نهاد های همکار ملی و بین المللی و امارت اسلامی با نظارت ادارات امور مهاجرین ولایات یاد شده دریافت نمودند.**

## تر دوو زرو زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان او ایران څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**دوه زره او ۴۵۰ تنه افغان مهاجرین د چنګابښ پر لسمه او یولسمه د کندهار د سپین بولدک، د ننګرهار د تورخم او د نیمروز ولایت د وریښمو له لارې څخه خپل هېواد ته راستانه شول.**
**د پورته ولایتونو له دغو سرحدي آمریتونو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې ۱۰۸ کورنۍ چې ۶۴۳ تنه کېږي له تورخم فرضي کرښې څخه، ۹۶ کورنۍ چې ۴۸۴ تنه کېږي د سپین بولدک له فرضي کرښې څخه او په ایران کې مېشت یو زر او ۳۲۳ تنه د نیمروز ولایت د وریښمو له لارې راستانه شول.**
**راستانه شوي له سرحدي ادارو سره تر نوملیکنې وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ، د مهاجرت او خوړو نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شول او دغه راز له هرې کورنۍ سره د اسلامي امارت له کړنلارې سره سم مرسته هم وشوه.**

## کم سنه کډوال: یو ښوونکی د ښې ارخي ګوند د بریا په صورت کې قوانینو کې د احتمالي بدلون په اړه اندېښنه څرګندوي

مهاجرنیوز




**توما (مستعار نوم) د کم سنه کډوالو په یوه زدکړیز مرکز کې د ښوونکي په توګه کار کوي. نوموړی د فرانسې په پارلماني ټاکنو کې د ښي اړخي ملي تجمع ګوند د احتمالي بریا په اړه اندېښنه څرګندوي. آیا دغه ګوند کولی شي په هغو قوانینو کې بدلون رامنځته کړي چې د کم سنه بهرنیانو د حقونو ساتنه کوي؟ د سترګو لیدلی حال .**

***توما نه غواړي چې د امنیتي دلایلو له امله یې نوم او د کار ځای وښودل شي. دغه ښوونکی همداراز نه غواړي چې د هغه دیپارتمنت نوم هم وښودل چې نوموړی پکې دنده ترسره کوي .***

**»زه یو له هغو لسو ښوونکو یم چې د فرانسې په یوه مرکزي دیپارتمنت کې له کم سنه او بې سرپرسته کسانو سره [په زدکړیزو برخو کې] مرسته کوم. موږ فرانسه کې د روان حالت په اړه ډېر اندېښمن یو. هغه کم سنه کسان چې موږ ورسره په اړیکه کې یو موږ ته وايي چې له تېر یو کال راهیسې له تبعیضي چلند سره مخ دي، په ځانګړې توګه د خپلو همزولو له خوا.**

**دغو کسانو ته ویل کېږي: «تاسو به سبا خپل هېواد ته ستانه کېږئ.» موږ په دې اړه پوښتنه ترې کوو، دوی بیا د خپلو سترګو لیدلی حال راته وايي... دغه تنکي ځوانان غواړي چې دلته پاتې شي او زموږ د سیمې په ټولنیز او مسلکي چاپېریال کې ادغام شي.**

**کله چې هغوی د خپلو سترګو لیدلی حال بیانوي، موږ ګورو چې تر اوسه یې پر وړاندې فزیکي اقدام نه دی شوی، دا ښه خبره ده، خو سپکې سپورې د پخوا په پرتله ببخي زیاتې شوې دي. فرانسوي ژبي ځوانان – لکه د عاجل د ساحل وګړي – خورا زیاته اندېښنه لري. هغوی سیاسي اخبار تعقیبوي او د ښي اړخي د احتمالي بریا په صورت کې د خپل راتلونکي په اړه اندېښمن دي.**

***د ښي اړخي ملي تجمع ګوند پر «ملي ارجحیت» ټینګار کوي او وايي هدف یې دا دی چې د ټولنیزو مرستو او سرپناه په برخه کې فرانسویانو ته د بهرنیانو په پرتله لومړیتوب ورکړي. د دغه ګوند مشر ژوردن باردلا ویلي دي چې «د کډوالۍ د ټولنیزې غرفې تابو» به له منځه یوسي. نوموړی هغو مالي مرستو ته اشاره کوي چې له بهرنیانو سره کېږي .***

**دمګړی موږ د شاوخوا ۱۰۰ بهرنیانو [زدکړیزو] چارو ته رسېدنه کوي چې د دیپارتمنت له خوا د کم عمره کډوالو په توګه پېژندل شوي دي :ډېری یې د عاج د ساحل دي، خو په ډله کې یې ځینې ګینیایان، بنګله دېشیان او یو شمېر افغانان هم دي.**



**هغه کسان چې د کم سنه کډوالو په توګه نه پیژندل کیږي د سړکونو پر غاړه شپې سبا کوي. انځور: رویترز**

**موږ تر ډېره د اداري پروسیجرونو په اړه اندېښنه لرو: که چېرې د ملي تجمع ګوند په ټاکنو کې بریالی شي، کوم بدلونونه به راشي؟ موږ یوه دموکراتیک هېواد کې ژوند کوو، وایو چې دوی نه شي کولی د ۱۵ ورځو په جریان کې ټول سیستم بدل کړي... خو ایا دا خبره سمه ده؟ که چېرې هغوی په قوانینو کې بدلون رامنځته کړي، آیا موږ به د دغو تنکي ځوانانو د حقونو د ساتلو لپاره بل امکانات لرو؟ ایا د غیر فرانسویانو لپاره به د سرپناوو شمېر کم شي؟**

***په فرانسه کې دیپارتمنتونه د کم سنه او بې سرپرسته کسانو – فرانسویان یا بهرنیان - چارو ته رسېدنه کوي. دغه کسان د دیپارتمنتونو تر حفاظت لاندې دي .دیپارتمنتونه هغوی ته قیم یا سرپرست ټاکي، سرپناه ورکوي او ښوونځي ته یې استوي. کم سنه بهرنیان تر ۱۸ کلنۍ پورې د اوسېدو کارت ته اړتیا نه لري. خو هغوی له ۱۸ کلنۍ وروسته د بالغو کسانو په توګه پېژندل کیږي او باید د اوسېدو کارت غوښتنه وکړي. ډېریو دغو کسانو ته له ۲۰ کلنۍ مخکې د ترک خاک اسناد ورکول کیږي .***

**موږ د لومړنیو اقامت کارتونو په اړه اندېښنه نه لرو چې له بالغ کېدو سره سم دغو کسانو ته ورکول کیږي: هغه ځوان بهرنیان چې له قومندانۍ څخه د اسنادو غوښتنه کوي معمولاً د ماشومانو د ساتنې ادارې له خدماتو برخمن کیږي، دوی د نویو بالغ شویو کسانو په توګه د یوه ځانګړي قرارداد**

**ځښتنان دي. ښوونکي او دیپارتمنتونه ورسره مرسته کوي... له همدې وجې د پولیسو قومندانۍ دغو کسانو ته اقامت کارتونه ورکوي.**

**خو د اقامت کارتونو د مودې تمدید بله خبره ده. ډېرى دغه کډوال د ماشومانو د ساتنې ادارې له چوکاټ څخه وتلي دي. دوی باید خپلواک وي او وتوانېږي چې خپل ژوند پر مخ یوسي. خو زیات شمېر کسان له اداري پروسیجرونو سره بلدتیا نه لري، د یو شمېر بهرنیانو د کارتونو د اعتبار موده پای ته رسېږي، ځینې نور خپل اسناد نه تمدیدوي. یو شمېر کسان یوازې پرېښودل شوي، ځینو کم سنه مهاجرو لنډمهال کارونه موندلي خو کافرمایانو ته یې اړوند اسناد نه دي ورکړي. ایا هغو ته به هم د ترک خاک سندونه ورکړل شي؟ استیناف به ممکن وي؟**

***ځانګړې قرارداد ځوانو بهرنیانو ته اجازه ورکوي چې د نوي ژوند له پیل مخکې اداري اسناد ترلاسه کړي او ټولنه کې ادغام شي. دغو کسانو ته دولتي سرپناه هم ورکول کېږي. د ماشومانو د حقونو مدافع لیس لوفوک وایي چې دغه تړون په ۲۱ کلنۍ پای ته رسېږي، خو دیپارتمنتونه کولی شي چې تر ۲۲، ۲۳، ۲۴ او ۲۵ کلنۍ پورې یې تمدید کړي.***

**بله مسله هغه دولتي مرستې دي چې موږ یې ترلاسه کوو. دمګړۍ دیپارتمنتونه موږ ته اجازه ورکوي چې کم سنه کډوالو ته په دولتي جوړښتونو (لوبغالي، زدکړېز مراکز...) کې سرپناه ورکړو. د ۲۰۲۳ له پای راهیسې ګڼ شمېر کم سنه او بې سنده بهرنیان زموږ دیپارتمنت ته راځي. په مرکزونو کې د کډوالو شمېر له اندازې زیات شوی، ټولې سرپناوې ډکې دي. که سیاسي حالت بدل شي، څه باید وکړو؟ وېره مو دا ده چې د ملي تجمع ګوند د بریا په صورت کې به وضعیت نور هم خراب شي.**

## ایټالیا: لمپدوسا ټاپو ته څېرمه د لسو کډوالو د مړيني په تړاو دوه کسان نیول شوي

مهاجرنیوز



د ایټالیا پولیسو لمپدوسا ټاپو ته څېرمه د لسو کډوالو د مړيني او همدارنګه دغه هېواد ته د ۵۴ تنه مهاجرو د داخلولو په تړاو دوه مصریان نیولي دي. دغه کسان دوه اونۍ مخکې له لیبیا څخه ایټالیا ته رسېدلي وو .

د ایټالیا پولیسو د اګریجنتو او د پالرمو د کم سنه کسانو د څارنوالیو د امر پر اساس هغه دوه مصریان نیولي چې د جون په ۱۷مه لمپدوسا ټاپو ته رسېدلي دي. پر دغو مصریانو تور دی چې ۵۴ کډوال یې ایټالیا ته لېږدولي دي. سربېره پر دې، یاد کسان په دې هم تورن دي چې په نامطمینه کښتۍ او نباامنو شرایطو کې یې د خلکو ژوند په خطر کې اچولی چې له امله یې ۱۰ بنګله دېشي مهاجرو د کښتۍ په لاندنۍ برخه کې د اکسیجن د کمښت له امله ساه ورکړه او یو شمېر نور ټپیان شول.

دا پېښه د جون په اووه لسمه د لمپدوسا په ۴۷ مایلۍ کې په نړیوالو اوبو کې رامنځته شوه. د نادیر په نوم سازمان سمندر کې یوه لرګینه بېړۍ وموندله چې ۱۰ متره اوږدوالی یې درلود او ۵۴ کډوال پکې سپاره ول. یاد سازمان د دغې کښتۍ په لاندنۍ برخه کې ۱۰ مړي موندلي وو.

دا هم ولولئ
<u>عراقي کډوال ډوبه شوې کښتۍ کې د یوې کم عمره کډوالې د وژنې په تور نیول شوی</u>

د جسدونو هویت معلوم شوی

تر دې دمخه له پېښې څخه ژوندي پاتو شویو کسانو ویلي وو چې دوه ورځې مخکې یې د لیبیا د زوارې له ساحل څخه خپل سفر پیل کړی و. دغه کښتۍ کې تر ډېره د بنګله دېش، پاکستان، سوریې او مصر وګړي سپاره ول.

د تحقیقاتو په پایله کې معلومه شوه چې نیول شویو کسانو د مهاجرو د کښتۍ د چلولو مسولیت درلود او د سفر په اوږدو کې زواره کې له قاچاقبرانو سره په اړیکه کې وو .ویل کېږي چې د دغو پلټنو په ترڅ کې د موندل شویو مړو هویت هم څرګند شوی دی.

په مدیترانه کې د کډوالو د کښتیو ډوبېدنه نوې خبره نه ده. دغه سمندرګي د کډوالۍ له تر ټولو خونړۍ او مرګوني لار ګڼل کېږي.

د کډوالۍ نړیوالې ادارې له خوا خپرې شوې شمېرې ښيي چې د تېر میلادي کال په جریان کې څه باندې ۳۱۵۵ کډوال په مدیترانه کې ډوب یا لادرکه شوي دي. سږ کال تر دې دمه تر ۱۰۰۰ زیاتو کډوالو پر دغې مرګوني لار خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې، له ۲۰۱۴ راهیسې په مدیترانه کې تر ۲۳۵۰۰ زیات کډوال مړه او یا لادرکه شوي دي.

دا هم ولولئ
<u>کالابرا کې د کښتۍ ډوبېدنه: څلور تنه د عراق په کردستان کې نیول شوي</u>

## وزیر امور کار آلمان: روند به رسمیت شناختن حرفه سرعت ادغام شغلی را برای پناهجویان کند می کند

مهاجرنیوز

در خزان سال گذشته پروژه جدید زیر نام "توربو شغلی" از طرف وزارت امور کار آلمان معرفی شد که هدف آن یافتن سریعتر کار برای پناهندگان بود. اما کدام موانع هنوز برای رسیدن به این هدف باید حذف شوند؟

هوبرتوس هایل، وزیر امور کار آلمان، هنوز موانعی را سر راه به اصطلاح توربو شغلی برای پناهندگان می بیند. او گفته است که "یک بخش در آلمان وجود دارد که کاملا متوقف گردیده است". او هنگام بازدید از یک کارخانه تولید کننده شیریخ در برلین که شمار زیادی از مهاجران در آن مصروف کار اند، گفت: «این مسئله به رسمیت شناختن حرفه است.» او ادامه داده گفت: «ما در آلمان عاشق بوروکراتی هستیم«.

هایل همچنین این موضوع را چالشی برای ایالت ها می داند. به قول او در کنفرانس نخست وزیران ایالات، توافق صورت گرفت تا در این راستا تا تابستان امسال بهبودی به وجود آید.

به عنوان موانع بیشتر برای ادغام سریع پناهندگان در بازار کار، از جمله به موانع زبانی و با نگاه به مادران مجرد در آلمان، زمینه مراقبت و غمخورشی از کودکان وجود دارد که باید بهتر شود .هایل اما تاکید کرده گفت که حتی اگر هنوز موانعی وجود داشته باشد، "توربو شغلی" برای مهاجران و شرکت ها، ارزش اش را دارد.

کارخانه شیریخ سازی فلوریدا در برلین در حال حاضر ۲۳۰ کارمند دارد که حدود ۱۰۰ نفر از آنها پناهجو هستند.

اولاف هون مالک این کارخانه می گوید: «ما به تعداد زیادی کارمند نیاز داریم که آموزش های ساده داشته باشند. البته در حال حاضر وضعیت برای ما خوب است«.

هایل با توجه به پناهجویان اوکراینی شروع به اصطلاح توربو شغلی را در ماه نومبر سال گذشته اعلام کرد. در این برنامه تمرکز باید روی پناهجویان اوکراینی می بود اما پناهجویان کشورهای دیگر نیز باید سریعتر کار پیدا کنند.

در ماه نومبر سال گذشته، وزیر امور کار آلمان در مجموع به ۴۰۰ هزار پناهجو اشاره کرد که دوره ادغام خود را به پایان رسانده اند یا در شرف انجام آن هستند و سپس در دسترس بازار کار خواهند بود.

بر اساس آخرین آمار اداره کاریابی، در ماه اپریل ۱۹۲ هزار اوکراینی یک اشتغال با بیمه اجتماعی داشته اند. یعنی ۱۳۵ هزار نفر بیشتر قبل از حمله روسیه به اوکراین در ماه فبروری سال ۲۰۲۲.

## خشونت در سودان: هزاران نفر هر روز کشور را ترک می کنند

مهاجرنیوز



هیچ پایانی برای خشونت ها در سودان در آینده نزدیک به چشم نمی خورد. به همین دلیل تعداد پناهندگان حتی در لیبیا که به عنوان یک کشور خطرناک شناخته شده است، در حال افزایش است.

جنگ در سودان براساس گزارش آژانس پناهندگان سازمان ملل متحد (UNHCR) در حال حاضر منجر به فرار هزاران نفر به عنوان پناهجو به لیبیا گردیده است. یوان واتسون، سخنگوی کمیساریای عالی پناهندگان سازمان ملل در ژنیو گفته است که در حال حاضر ۲۰ هزار نفر از سودان در لیبیا فرار کرده اند. او در ادامه می گوید: « پس از ۱۴ ماه جنگ، هزاران نفر هر روز سودان را ترک می کنند.» به قول او این انسان ها از خشونت، مرگ و یک قحطی قریب الوقوع در فرار اند .

لیبیا یکی از مهمترین کشورهای ترانزیتی مهاجران و پناهنجویان که به سمت بحیره مدیترانه می روند، به حساب می آید. از آنجا بسیاری تلاش می کنند تا خود را به اروپا برسانند. این که آیا پناهجویان سعی می کنند خود را به ساحل برسند، واتسون نمی توانست اظهار نظر کند. اما او گفته است که " لیبیا در حال حاضر برای پناهجوان بسیار دشوار است و مردم برای یافتن زندگی بهتر به تلاش خود ادامه خواهند داد«.

در سودان، حکومت و شورشیان از بهار سال ۲۰۲۳ برای به دست آوردن قدرت با هم در جنگ اند. ده میلیون از سودانی ها آواره شده اند که نزدیک به دو میلیون آنها در کشورهای همسایه فرار کرده اند .

کمیساریای عالی پناهندگان سازمان ملل برای حمایت از کشورهای همسایه و تازه واردان به پول بیشتری نیاز دارد. در ماه جنوری امسال با راه اندازی یک ابتکار عمل برای جمع آوری کمک های مالی، ۱،۵ میلیارد دالر جمع آوری شده است که تاکنون تنها ۱۹ درصد از این مبلغ دریافت شده است. با این پول انتظار می رود ۳،۳ میلیون نفر در لیبیا، اوگاندا، جمهوری افریقای مرکزی، چاد، مصر، اتیوپیا و در سودان جنوبی حمایت گردند.

خبرنامه